# د حاجي او عمره كوونكي

# لارښـــــــــــــــود

ليكوال: دكتور صالح بن فوزان بن عبدالله الفوزان

د امام محمد بن سعود د اسلامي پوهنتون دقضاء په
عالي ښوونځي كې استاد

بسم الله الرحمن الرحيم

## سرلیک

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه... وبعد:

دځینو عوامو خلکو سره، په ځانګړي ډول له هغو سره چې د لومړی ځل لپاره حج یا عمره کوي ډیری پوښتنې پیدا کیږي چې په خپل حج او عمره کې څه ووایي؟ څه وکړي؟

د دوی لپاره دا لنډه رساله ولیکل شوه، ځکه عامی سړی کله کله په هغو کتابو نه پوهیږي چې په علمي اسلوب لیکل شوي وي، ددوی لپاره دا بسینه کوي چې هغه څه چې دوی یی کوي، په داسې طریقه ورته وویل شي چې په اسانه ډول ورباندې پوه شي...

لیکوال

**ښاغلی حاجي !**

کوښښ وکړه چې دحج او عمرې او ټولو کارونو په نیت کې دې، اخلاص موجود وي، او کوښښ وکړه چې حج، عمره، او نور کارونه ټول د پاک نبي صلی الله علیه وسلم د سنت مطابق تر سره کړې، تر څو چې عمل دې صحیح او مقبول (قبول شوی) وګرځي.

نو له دغه دوه شرطو پرته چې: په نیت کې اخلاص- او دنبوي سنت مطابقت دي، هیڅ عمل نه قبلیږي، نو له همدې کبله زه درته لارښوونه کوم مخکې له دې چې په حج او عمره پیل وکړې، لومړی ددغې رسالې لارښوونې ولوله، شاید چې الله به یې درته ګټور وګرځوي.

او همدار راز پام کوه چې هغه نفقه او پیسې چې په حج او عمره کې یې مصرفوې دحلالې لارې لاس ته درغلي وي، ځکه حج له حرامو پیسو نه قبلیږي، لکه څنګه چې په حدیث شریف کې راغلي.

**<u>لمړی - احرام:</u>**

د حج او عمرې لومړی کار، احرام ده، نو ته باید لمړی داحرام ځای، وخت، او دهغو شیانو چې باید داحرام څخه مخکې وشي، او د احرام په معنا ځان پوه کړې، او پوه شې چې په احرام تړلو سره پہ تا باندی کوم کارونه حرامیږي، اوکوم ذکر باید داحرم

په وخت کې وویل شی ، او کوم کارونه درته حرام دي چې باید ویې نه کړې، نو غوږ شه:

**۱ـ د احرام ځای:**

نبي صلی الله علیه وسلم هغه ځایونه ټاکلي، چې په هغو ځایو باندې کله د حج یا عمرې قصد کوونکې تیریږي، نو لازمه ده چې احرام یې تړلی وي، او له احرامه پرته ورته په هغو ځایو تیریدل ناروا دي ، چې هغه ځایونه په لاندې ډول دي:

أـ **ذوالحلیفة:** چې اوس ورته ابیار علي ویل کیږي، دا سیمه د مدینې دخلکو میقات ده، او په دې لاره که څوک په هوا تیریږي او که په ځمکه باید مُحرِم ( احرام یی تړلی وی) وی ـ

بـ **الجحفة:** دا سیمه په ساحلي لار رابغ ته نږدې ده، او نن سبا خلک له رابغ څخه احرام تړي، چې دا سیمه پخوا د یسیر میقات و، او دا میقات د مغرب، شام، مصر خلکو، او دهغو هیوادو خلکو چې له همدې لارې حج یا عمرې ته، په ځمکه او که په هوا راځي، میقات ده.

جـ **یلملم :** دا سیمه اوس سعدیه نومیږي، دا د یمن دخلکو او دهغې خوا چې څوک راځي، میقات ده.

دـ **قرن المنازل :** دا سیمه سیل نومیږي، چې د نجد او هماغې خوا دخلکو که په هوا او که په ځمکه راځي، میقات ده.

هـ **ذات عرق :** دا دعراق دخلکو، او دهغو چې دعراق له خوا راځي، میقات یې ده، که په هوا راځي، او که په ځمکه.

و- هغه خلک چې کورونه یې په یادو شوو ځایو کې نوي، او دمکې مکرمې سره ګاونډ کې اوسي، نو دا خلک به احرام له خپله کوره راتړي، اوهغه خلک چې کورونه یې په مکه کې دي، دوی به دعمرې په وخت کې حِـل ( د حرم د حدودو نه بهر ) ته داحرام لپاره را وځي، او دحج په وخت کې به په مکه کې احرام تړي، او همدا راز هغه کسان چې په یادو مواقیتو را تیر شي، او دعمرې یا حج قصد نلري، بیا وروسته له دې چې راتیر شو دعمرې یا حج قصد یې وکړ، نو دی به هغه ځای کې احرام تړي کوم ځای کې یې چې نیت کړی ده، او له هغه ځایه به دمکې خواته له احرام پرته نه را تیریږي.[1]

---

(۱)او که څوک له میقات څخه نه و را تیر شوی کله چې میقات ته ور نږدې شو احرام به وتړي.

## ۲ـ د حج د احرام وخت:

دا میاشتې هغه دي چې الله تعالی په خپل سپېڅلي کتاب کې یادې کړې دي،:(الْحَجُّ أُشْهُرٌمَّعْلُومَاتٌ)[۱] او دا میاشتې، شوال، ذوالقعده او د ذې الحجې لس ورځې دي، نو که چا مخکې له دې ورځو احرام وتاړه ،نواحرام یې د جمهورعلماو په اند نه صحي کیږي.

او که چا احرام وتاړه ، او مخکې له دې چې د ذې الحجې دلسمې شپې سهار راوخیژي، په عرفات ودریده، حج یې صحیح ده ، او د عمري لپاره د کال په هر وخت کې احرام تړل سی ، خو د حج تمتع عمری لپاره یواځی د حج په میاشتو کی

## ۳ـ هغه شیان چې باید له احرام څخه ترمخه ترسره شي:

کله چې دې د احرام قصد وکړ، نو مستحبه ده چې لاندې کارونه دچمتوالي لپاره ترسره کړې:

أـ که اړتیا وه، خپل نوکان واخله، برېتونه لنډ کړه، د ابطینو ( تخرګونو) او له نامه لاندې ویښتان پاک کړه، او که اړتیا نه وه مه یې اخله (که چیرته دې نه ځوروي)، د ببلګې په ډول که دې په نږدې وختونو کې پاک کړي و، بیا اړتیا نشته.

---

(۱)سورة البقرة ۱۹۷

ب- ټول بدن ووينځه، او له بدن څخه دې خولې او نورې چټلیانې پاکې کړه – پام کوه چې دغسل وخت کې د ستر په حالت کې اوسې – او که چیرته د غسل ځای نه پیدا کیده بیا اړتیا نشته.

ج- سړی به ټولې هغه جامې چې ګنډل شوي وي، او یاهم هغه جامې چې دده د بدن او یا یې د بدن دکوم غړي لپاره اوبدل شوي وي، لکه جورابې، خولۍ، او نور... وباسي، او لنګ او څادر به اغوندي، او کولی شي هر ډول څپلۍ په پښو کړي، او همدارنګه کولی شي هغه جورابي یا ماسۍ چې د پښو له بېډیو ( ښنګرو ) څخه ټیټې وي، په پښو کړي. مستحب ده چې، لنګ او څادر سپین رنګي او پاک وي، مهمه نده چې زاړه وي که نوي، خو ښځه به یوازې هغه نقاب وباسي کوم یې چې په مخ باندې ده، که نقاب وي که برقه، هغه چې په ځانګړي ډول د مخ لپاره ګنډل شوي وي، او دهغه په ځای به ټیکری اغوندي او خپل سر او مخ به له پردیو خلکو څخه پټوي، که یې ټیکری په مخ هم ولګیده پروا یې نشته، یعنې لازمه نده چې دټیکري څخه پګړۍ جوړه کړي او یا هم کوم شی په سر کیږدي چې ټیکری یې په مخ رانشي، ځکه دا سنت ندي.

همدا راز به ښځه خپل لاسپوښونه، هم لرې کوي، او له دې دریو شیانو چې نقاب، برقه او لاسپوښونه دي، د نورو شیانو اغوستل منع ندي، ښځه کولی شي هغه شیان واغوندي چې عادت یې وي، او په هغو شیانو کې کوم ډول سینګار نه وي، او دارنګه دښځو د احرام لپاره کوم ځانګړی رنګ نشته، او لکه څنګه چې ځینې خلک فکر کوي چې باید شین رنګ احرام وتړي، دا خبره کوم

اصل نه لري، او ځيني نور فکر کوي چې بايد سپين رنګ احرام وتړي داهم غلطه ده ځکه چې په دې صورت کې يې له نارينه و سره ورته والی کيږي.

د- له غسل کولو وروسته به په خپل بدن عطر( خوشبو ) استعمالوي، کوم عطر چې ورسره موجود وي، او د احرام په جامو به عطر نه وهي، او له دې وروسته به د احرام نيت وکړي... او ښځه به داسې عطر استعمالوي چې بوی يې ډير زيات نه وي. (١)

## ۴- د احرام معنی:

کله چې له چمتووالی څخه خلاص شوې، نو ته محرم يې او د احرام معنی په لاندې ډول ده:

کله چې دمناسکو څخه د يوه نسک د ادا کولو نيت وکړې، او په يوه نسک کې داخل شوې، نو که په ژبه کوم نيت هم ونه کړې ته محرم شوې، او که د احرام نيت د فرضي لمانځه وروسته وکړې، ښه به وي، او که د فرضي لمانځه وخت نه و، او دوه رکعته لمونځ دې وکړ، نو کوم مانع نشته، چې دا وخت ممنوع الصلاة وخت نه وي لکه دلمر ختلو يا لمر لويدلو او يا لمر د زوال وخت.

---

(١) او بل په هره جامه يې احرام تړل کيږي غير د زينتي جامو څخه.

نو ته د د نهی په وخت ( کوم وخت کې چې لمونځ ناروا وی ) له لمانځه پرته هم محرم کیږي، او که په حج او عمره کې د بل چا استازیتوب کوې یعنې د بل چا لپاره یې کوې نو نیت به هم دهغه کس لپاره وي، او که دې وویل چې: لبیک اللهم عن فلان،

**۵ـ دمناسکو ډولونه هغه چې هر حاجي کولی شي یو یې انتخاب کړي:**

دمناسکو ډولونه درې دي:

(تَمتّع، قِران، افراد) تر ټولو غوره یې تمتع ده بیا قران او بیاهم افراد .

دتمتع معنی: چې دحج په میاشتو کې له میقات څخه ، د عمرې د احرام لپاره نیت وکړې، او کله چې دعمری مناسک اداء کړې حلال به شې له احرامه، ( خپلی جامی بہ واغوندی ) او بیا به د حج پہ ورځو کی په مکه کې دحج لپاره احرام وتړی ، او دتمتع فدیه به ورکړې که چیرته د مسجدالحرام له اوسېدونکو څخه نه وې.

د قران معنی: چې دعمرې او حج دواړو لپاره له میقاته احرام وتړې، او یاهم دعمرې لہ پیلیدو مخکی د حج نیت وکړی ، نو پہ دې سره عمره پہ حج کې داخلہ کړه او قارن شوی ، او په د احرام کې بہ پاتې شې تر څو چې د اختر په ورځ جمره وولې، او خپل سر وخریې او د متمتع په شان فدیه ورکړې. کہ دمکی د اوسیدونکو څخہ نہ وی ـ

د افراد معنی: چې یواځې د حج لپاره له میقات څخه احرام وتړې ، او په خپل احرام کې پاتې شې تر څو چې د اختر په ورځ جمره وولې، خپل سر وخریې او په دې صورت کې بیا په تا باندې فدیه نشته... تفصیل یې وروسته راځي.

## ۶۔ هغه ذکر چې مستحب ده چې داحرام او احرام څخه وروسته وخت کې وویل شي:

أ- که د حج تمتع په نیت دې احرام تړلی وي، نو مستحبه ده چې دا دعا ووایې: (اللهم انی أرید الاحرام بالعمرة متمتعا بها الی الحج فیسرها لي وتقبلها مني، أو لبیک اللهم عمرة متمتعا بها الی الحج).

ب- که د حج قران په نیت دې احرام تړلی وي، نو دا دعا وایه: (اللهم انی أرید الاحرام بالعمرة والحج) او یاهم دا لوله: (لبیک اللهم عمرة و حجا).

ج- که د حج افراد په نیت دې احرام تړلی وي نو دا وایه: (اللهم انی أرید الاحرام بالحج) او یاهم (لبیک اللهم حجا).

او که چیرته دې د بیمارۍ احساس وکړ، او وویریدې چې شاید حج او عمره اداء نه شم کړې نو ته به دا خبره د شرط په ډول ذکر کوی ، نو وایې به: ( فان حبسني حابس فمحلي حیث حبستني) نو که ناروغ شوی ، او حج در نه پاتی شو بیا په تا هیڅ شی هم نشته، ځکه تا الله تعالی ته شرط ایښی و، لکه څنګه چې په حدیث کې راځي، او کله چې دې د احرام نیت وکړ، نو تلبیه به داسی وایی

: (لبيک اللهم لبيک، لبيک لا شريک لک لبيک، ان الحمد لک والنعمة لک لا شريک لک لبيک) دا به سړي په لوړ غږ او ښځې به يې په ټيټ غږ وايي.

**يادونې:**

لمړی: هغه ميرمنې چې دحيض يا نفاس په حالت کې وي، ، که چيرته حيض او نفاس د احرام څخه مخکې ورپېښ شوی و، نو دا ښځه به غسل وکړی ، او ځان به پاک کړی او عطر به ولګوی ، نو مُحْرِمه به شي لکه دنورو حاجيانو په شان، او همدا رنګه که حيض يا نفاس د احرام څخه وروسته ورپيښ شول، نو دا به په خپل احرام کې پاتې کيږي او هغه کارونه به کوي لکه نور خلک يې چې کوي، او يواځې طواف به ځنډوي تر څو چې پاکه شي، نو کله چې پاکه شوه بيا به طواف کوي، او که چيرته يی د حج تمتع نيت کړی وی ، او د عرفې ورځ راورسېده خو دا لا نه وه پاکه شوې، نو دا به دحج نيت کوي او حج به په عمرې ور مخکی کړی ، نو په قارنې حاجۍ به بدله شي، او عرفات ته به ولاړه شي او هغه څه چې نور حاجيان يې کوي دا به يې هم کوی خو يواځې طواف او سعی به

ځنډوي تر څو چې پاکه شي، او کله چې پاکه شوه بیا به طواف او سعی وکړي. (١)

<u>دویم:</u> د الوتکې سپرلۍ باندې فرض  ده چې کله میقات ته را ورسیږي، احرام وتړي، او روا نه ده چې احرام تړل تر هغو وځنډوي تر څو چې دجدې په هوایي ډګر کې را کوز شي، ځکه جده د دوی لپاره میقات نه ده، او یواځې د جدې دخلکو لپاره میقات ده.

نو که چا غسل وکړ، ځان یې پاک کړ، او لنګ یې تر کالیو لاندې واغوسته، مخکې له دې چې الوتکه کې سپور شي، نو کله چې الوتکه میقات ته نږدې شوه یا هم ورته را ورسیده، نو دا سړی به کمیس وباسي او د احرام څادر به اغوندي، او د احرام نیت به کوي.

او که د احرام جامې ورسره نه وي، پرتوګ دې پریږدي او کمیس دې وباسي، او بیا دې کمیس خپله شا، ملا او سینه پټه کړي، او د احرام نیت دې وتړي، او کله چې هوایي ډګر ته را ورسیږي بیا دې د احرام  واخلي او ود تړی .

---

(١) دهغه ماشوم چې ممیز وي خپل احرام صحیح ده، او که ممیز نه و، خپلوان به یې دهغه په ځای احرام ورتړي، او له محظوراتو به یې ساتي.

اما د ښځو لپاره د احرام کومې ځانګړې جامې نشته، نو دا به په الوتکه کې احرام په خپلو جامو کې تړي، خو که چیرته یې برقه په سره وه هغه به لرې کوي او د هغې په ځای به ټیکری اغوندي، او له خپلو لاسو به لاسپوښونه وباسي.[۱]

<u>دریم:</u> ځینې حاجیان چې احرام وتړي بیا خپل انځورنه (تصویرونه) وباسي، او د یادښت په ډول یې ساتي، چې ددوی دا کار له دوو وجو حرام ده:

لمړی وجه: تصویر ( عکس ) اخیستل ستره ګناه ده .[۲]

دویمه وجه: دا کار په ریا کې داخلیږي، ځکه کله چې خلک دده دا تصویر ویني چې احرام یې تړلی، نو دیته ریا ویل کیږي، نو پام کوه ای مسلمانه وروره.

<u>څلورم:</u> هغه کس چې دبل چا لپاره حج یا عمره کوي، شرط یې داده چې دې کس به د خپل ځان لپاره حج یا عمره کړي وي.

---

(۱)او له سرپو څخه به یې په خپلو جامو کې پټوي.

(۲)نو مناسبه نه ده چې دوی د خپلو مناسکو پیل پرې خرابه کړي.

پنځم: ځیني حاجیان چې کله احرام تړي، نو خپله ښی وږه لوڅوي، چې دا کار غلط ده، ځکه دا کار یواځې د طواف په وخت کې کیږي.(۱)

## ۶- هغه کارونه چې د احرام دنیت کولو وروسته یې کول حرام دي:

أ- ښځې او نر ته د احرام له تړلو او نیت کولو وروسته په ځان او جامو باندی هر ډول خوشبو استعمالول حرام دی ، او همدا راز حرام ده چې هغه شیان بوی کړي، کوم چې بوی او خوشبو یی په ځان او جامو پاتی کیږی ، لکه ځنی ډول خوراکی توکي ، مسالې ، صابونونه کریمونه او مرهمونه ، خو که خوشبو یی نه پاتې کیږی ، بیا بویول پروا نه کوی

ب- د ټول ځان یا سر د ویښتو لرې کول او د نوکانو اخیستل ، حرام دي ، که په هر وسیله او طریقه وی .

ج- د ښکار کول، یا په ښکار کولو کې له بل چا سره مرسته کول، که په هره وسیله وي، او یایې یو چاته دښکار لپاره ورښودل حرام دي.

د- کوروالی ، او راپارونکی حرکتونه اوخبري ، کوژدن، واده د نکاح خطبه ویل او د نکاح په هکله خبرې اترې حرامې دي.

---

(۱) هغه لمړی طواف که دعمرې لپاره وي که طواف قدوم وي.

ه- سړي ته حرامه ده چې خپل سر په کوم سریښ شي باندې پټ کړي، لکه پګړی، خولی، قرقولي او نور... او پروا نکوي که یې د لمر د مخنیوي لپاره چترۍ استعمال کړه.(١)

و- سړي ته حرامه ده چې ګنډل شوي شیان لکه جامې، پرتوګ، جرابې اویا نور... واغوندي، خو د ملابند تړل ددې لپاره چې خپلې پیسې په کې وساتي، او همدا رنګه د ساعت(٢) په لاس کول، د عینکو اغوستل، د څپلیو په پښو کول، او د لنډو ماسیو چې د پښو تر بېډیو ټیټې وي په پښو کول پروا نه کوي.

ز- ښځې ته حرامه ده چې برقه او یا هم نقاب او یا هغه شی واغوندي چې د مخ لپاره ګنډل شوی وي، او همدا رنګه د لاسپوښو اغوستل هم ورته حرام دي که له وړیو او یا له پومبې جوړ شوي وي.

**پاملرنه: هغه خطاګانې چې د تنعیم او جعرانې په جمات ( مسجد ) کې ترسره کیږي:**

١ـ د تنعیم په جمات کې:

د تنعیم جومات ته ځینې حاجیان په د نیت ورځی ، او داسې عقیده یی جوړه شوې چې مسجد الحرام ته له تګ مخکی دلته لمونځ کول سنت دی ، او ځینې حاجیان کله نا کله احرام پریږدي،

---

(١) لکه د موټر چت یا خیمه.

(٢)او ګوته په ګوته کول.

او په خپل میقات کې يې نه تړي، او بيا راځي په تنعيم جمات کې احرام تړي، او ځينې نور حاجيان چې مکه کې اوسيږي دې جومات ته ورځي او احرام په کې تړي، ځکه دوی داسې عقيده لري چې، دا جومات ځانته يو فضيلت او ځانګړتيا لري، نو له دې کبله دې تاسو خبر ياست چې دا جومات په نورو جوماتو کومه ځانګړتيا او فضيلت نه لري، نو ددې شيانو قصد کول بدعت ده، ځکه نبي صلى الله عليه وسلم وايي: (من عمل عملاً ليس عليه أمرنا فهو رد) هر چا چې داسې کار وکړ چې موږ هغسې نه و کړي هغه کار يې رد يا نا منل شوی ده.

او دې جومات ته ورتلل، او احرام په کې تړل د نبي صلى الله عليه وسلم کار نه و، او نه يې هم د اصحابو کرامو کار و، بلکې دا جمات اصلا په هغه وخت کې جوړ شوی نه و، بلکې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له زمانی څخه وروسته جوړ شو، او مسجد عائشة ونومول شو، او دا نوم بل اصل نه لري غير له دې چې عائشې رضی الله عنها له دغه ځای څخه احرام تړلی و.

هغه څه چې دلته پيښ شوي و، د نبي صلى الله عليه وسلم په وخت کې، هغه داسې و چې کله عايشه رضی الله عنها خبره شوه چې دې ته اجازه وشوه چې راشي عمره او حج وکړي، ځکه هغه رضی الله عنها په عمره نه وه راغلې بلکې حج ته په مقرونې عمرې راغلې وه، ځکه چې حيض ورپيښ شوی و، نو له نبي صلى الله عليه وسلم څخه يې وغوښتل چې اجازه ورته وکړي ترڅو مستقله عمره وکړي، نو بيا نبي صلى الله عليه وسلم امر ورته وکړ

چې ولاړه شي تنعيم ته او له هغه ځايه احرام را وتړي، ځکه دېته له هغه ځايه داحرام تړل يو څه اسانه و، ځکه دا دحل تر ټولو نږدې ځای و، هغې ته، او په نورو دحل په ځايونو کوم فضيلت نه لري، نو هغه څوک چې داسې ګمان کوي چې دا ځای به په نورو ځايونو ښه والی لري دا غلط ګمان ده.

نو هغه څوک چې تنعيم ته ددې لپاره ځي،او داسې عقيده لري دا اعتقاد يې بدعت ده، او هغه چې په ميقات کې احرام نه تړي او له تنعيم څخه يې تړي، نو دې سړی ناروا کړی ده، او واجب يې پرېښی ده چې نو دی بايد فديه ورکړي، چې هغه د يوه پسه حلالول دي، په مکه کې، او غوښې به يې په مکه کې په غريبانو وويشي، او لکه څنګه چې يې احرام ترک کړی بايد دفديې تر څنګ توبه هم وباسي.

او هغه کسان چې کله مکې ته ورسيږي مسجد الحرام ته نه ځي، او د تنعيم جومات ته ځي او هلته لمونځ په کې کوي، مخکې له دې چې مسجد الحرام ته لاړ شي، دا کار يې بدعت حسابيږي، چې ډير زيات ورباندې ګناکار کيږي، ځکه چې محرم مکې ته د رسيدو سره سم بايد مسجد الحرام ته لاړشي او طواف وکړي، او صفا او مروا دې وکړی که چيرته عمره کونکی و، او ياهم که چيرته قارن يا مفرد حج کوونکی و بايد طواف قدوم وکړي، او تنعيم او نورو جماتو ته دې نه ورځي، او له مکې څخه وتل او تنعيم ته تلل ددې لپاره چې احرام تکرار کړي، د عمرې لپاره مخکې له حج څخه او ياهم له حج څخه وروسته، او غير د حج له وخته په

نورو وختو کې، دا کار د ښه کار خلاف ده، ځکه په حرم کې پاته کیدل او لمونځ کول او طواف کول د ثواب لپاره دا له دې ښه دي چې د حرم څخه ووځي او له تنعیم څخه د عمرې دتکرار لپاره بیا احرام وتړي، والله اعلم.

**۲ـ د جعرانې په جمات کې:**

جعرانه: چې جیم حرف يې زير يعنې کسره لري، عین يې ساکن او راء حرف يې سپک ویل کیږي، او یاهم کله کله په تشدید سره ویل کیږي خو سپک والی يې سم ده، دا ځای مکې ته نږدې او د مکې او طایف منځ ده، چې یوڅه اندازه د مکې خواته نږدې ده، دا ځای په نورو ځایو کومه ځانګړتیا او فضیلت نه لري، لکه څنګه چې ځینې خلک ګمان کوي، خو نبي صلی الله علیه وسلم هغه وخت احرام په کې وتاړه کله چې هغه مبارک د مکې په لاره کې و، او له حنین څخه راغلی و، نو احرام يې په جعرانه کې وتاړه ، ځکه هغه مبارک له همدې ځایه داحرام نیت وکړ.

او هغه صلی الله علیه وسلم او یاهم دهغه مبارکو اصحابو هیڅ کله داسې نه دي کړي چې خاص ددې لپاره جعرانې ته راشي چې له دې ځای نه احرام وتړي او یاهم لمونځ په کې اداء کړي، نو هغه څوک چې له مکې راوځي او بیا جعرانې ته ځي، او هلته لمونځ په کې کوي یا له هغه ځایه احرام تړي دا کار نه نبي صلی الله علیه وسلم کړی او نه هم دهغه اصحابو، او نه هم دا کار معتبر علماء خوښوي، بلکې دا کار عوام خلک ددې لپاره ترسره کوي چې

دوی داسې ګمان کوي چې دا به سنت وي، ځکه دوی وايي چې نبي صلى الله عليه وسلم چې کله داخل شوی و، نو له دې ځايه يې احرام تړلی و، چې د دوی دا ګمان کاملا غلط ده.

## دويم : هغه کارونه چې مکې ته د رسېدو په وخت کې کېږي

### ۱ـ متمتع حج کوونکی به دا کارونه کوي:

کله چې متمتع حج کوونکی مکې ته ورسيږي نو لمړی به د عمرې مناسک اداء کوي، چې له بيت الله ( کعبې ) نه به اوه (۷ ) ځلې طواف کوي، يعنې د عمرې طواف، چې هره پيره طواف به د حجر اسود څخه پيلوي، او په همدې حجر اسود به يې ختموي، نو کله چې د طواف له اوومې پيرې څخه خلاص شو، دا طواف له ځايه څخه به را ووځي، او دوه رکعته لمونځ به اداء کړي، او ښه خو داده چې دا لمونځ د مقام ابراهيم سره اداء کړي که يې امکان درلود. او که يې امکان نه و بيا يې چې هر چيرته اداء کړ پروا يې نشته، بيا مستحبه ده چې د زمزم له ابو څخه يو څه اندازه اوبه وڅښي، بيا به د عمرې لپاره صفا ته را ووځي او د صفا او مروا په مينځ کې به اوه ۷ ځله چکر ووهی ،يعني تګ او راتګ وکړی ، او د صفا له يو خوا نه بلې خوا ته تګ يو چکر او د مروا له يو سر نه بل سر ته دوهم چکر شميرل کيږی ، او همدا شان به اوه (۷) چکر پوره کړی ، او دا صفا او مروا به يی د عمرې وی نه د حج لپاره

او له دې وروسته به سړي د خپل ټول سر له ویښتانو څخه یو څه اندازه کمه کړي، او ښځه به د ګوتې د یوه بند په اندازه ویښته کم کړي که یې کوڅۍ کړي وي او که خلاص وي، نو په دې سره به عمره پای ته ورسیږي، او متمتع حج کوونکی به حلال شي، او هغه څه چې ورته حرام و بیرته به ورته حلال شي.

فایده:

د عمرې ارکان : احرام، طواف سعی د صفا او مروا .

د عمر واجبات: له ټاکل شوی میقات څخه د احرام تړل، او د سر خریل یا هم د ویښتو لنډول دي.

## ۲- هغه څه چې قارن او مفرد حج کوونکی یی باید ادا کړی

کله چې قارن او یا هم مفرد حج کوونکی مکې ته ورسیږي، نو ورته مستحب ده چې لمړی طواف قدوم وکړی او یو طواف اوه ځل له کعبی تاویدل دی، او بیا له هغه وروسته دوه رکعته دطواف لمونځ اداء کړي، په قارن او مفرد حج کوونکی د صفا او مروه سعی کول یو ځل لازمی دی ، نو دا د دوی خوښه ده چې طواف قدوم سره یی کوی او که ځنډوی یی او د طواف افاضه ( فرضی طواف ) سره یی کوی ، او دا دواړه حالته ورته روا دی ، او له دې وروسته به د احرام په حالت کې پاتې کیږي د اختر ته ورځې پورې.

**یادونی :**

لمړی: د طواف د صحت لپاره نیت کول شرط دی ، او د نیت ځای چې ده هغه زړه ده، او دا نیت په خوله نه ویل کیږي، او نور شرطونه یې طهارت یعنې پاکوالی، او د عورت پټوالی ده، او د اوو ۷ پیرو پوره کول دي، چې هره پیره له حجر اسود څخه پیل او په حجر اسود پای ته رسیږي، او طواف به داسې کوې چې بیت الله الشریف دې چپ لاس ته وي، او طواف به د حجر اسماعیل شاته کوي که له هغې دبرې ور واووښتې بیا دې د طواف دا پیره صحیح نه ده.

دویم: د سړي لپاره مستحب ده چې د عمرې او د طواف قدوم په وخت کې خپله ښۍ اوږه لوڅه کړي، او که یې امکان درلوده نو لمړی درې پیرې دې لږې په تیزۍ سره ترسره کړي.

دریم: دطواف او سعی لپاره کومه ځانګړې دعا نشته، نو هغه دعا وایه کومه چې درته اسانه وي، تکبیر، کلمه طیبه، او یا تسبیح ویل ، او که کولی شې چې څومره قرآن دې حفظ ده هغه ووایه، او په حجر اسود باندې ګڼه ګوڼه مه جوړوئ، بلکه که ممکنه وه په لاس یې مسح کړه، او ښکل یې کړه، او که یې امکان نه و، له لیری ورته اشاره وکړه او بس، او همدا رنګه به رکن یماني باندې هم لاس ږدې که یې امکان درلود او که یې امکان نه و تیر شه او اشاره مه کوه.

ځلورم: د سعی د صحت لپاره هم نیت مهم ده، او سعی باید له طواف څخه وروسته ترسره شي نه مخکې، او باید اوه پیرې ووهې چې یوه پیره له صفا پیل په مروا ختمه او بله پیره له مروا پیل او په صفا ختمیږي.

پنځم: کله چې ته په طواف لګیا وې، او یا دې سعی کوله او د جماعت لمونځ پیل شو، نو ته به خپل طواف او سعی بند کړې د جماعت سره به لمونځ اداء کړې، او کله چې دې سلام وګرځاو، نو خپل طواف او سعی به له هماغه ځایه پیل کړې.

## ۳- د ترویې په ورځ کوم کارونه کیږي:

د ترویې ورځ د ذې الحجې اتمه ورځ ده، او په دې ورځ هغه متمتع حج کوونکي ته مستحب ده چې له عمرې څخه فارغ شوی، چې بیا د حج لپاره په سهار کې احرام وتړي، نو له احرام څخه ترمخ به ټول هغه کاروه کوي، کوم کارونه یې چې په میقات کې کړي و، لکه د ځان پاکوالی، غسل، عطر وهل، او بیا به له هماغه ځایه چې په کې موجود ده احرام وتړي، خو مفرد او قارن حج کوونکي به لا تر اوسه هم په خپل پخواني احرام کې وي، هغه احرم چې په میقات کې یې تړلی و، او بیا به ټول د ماسپښین څخه مخکې منی ( منا ) ته ولاړ شي، او مسجد الحرام ته به د طواف لپاره نه ځي، بلکې منا ته به له خپله کوره او اطاق څخه روانیږي.

د ماسپښین، مازیګر، ماښام او ماخستن لمونځونه به په خپل وخت کې وکړي، خو څلور رکعته لمونځونه به په قصر سره

کوي، يعنې دوه رکعته به يې کوي، بيا به همدا شپه يعنې د نهم شپه په منا کې تيره کړي، او د سهار لمونځونه به هم همدغلته اداء کړي، د يادونې وړ ده چې په منا کې شپه کول سنت دي، که چا پرېښودل خير ده، او هغه کسان چې منا ته مخکې راغلي وي، يعنې د ترويې له ورځې مخکې راغلي وي، نو دوی به له منا څخه په سهار کې احرام تړي، لکه هغه نور خلک او بيا به په خپل کور کې پاتې کيږي.

## ۴- **په عرفات درېدل او هلته بايد څه وشی:**

کله چې د نهمې ورځې سهار شي، او لمر را وخيژي، نو حاجيان به له منا څخه د عرفات په لور په ارامۍ، کرارۍ، وقار، او لبيک ويلو سره روان شي، کله چې هلته ورسيږي، نو ځانونه دې ډاډه کړي چې د عرفات حدودو ته را رسيدلی يو، لازمه نه ده چې په غره وخيژي، او يا غر و ګوري، نو کله چې لمر زوال وکړ، د ماسپښين او مازيګر لمونځونه به قصر ادا کړی ، په يوه اذان او دوو اقامتو سره ، او بيا به پہ مخ پہ قبلہ الله تعالی ته دعاګانې او زارۍ ګانې پيل کړي، تر هغو چې لمر و لويږي کله چې لمر ولويده، نو د مزدلفې په طرف به لاړشي، او که څوک له عرفات څخه مخکې له ماښامه د لمر لہ لويدو مخکی ووتل بايد چې بيرته راشي او په عرفات کې د د لمر تر وليدو پوری پاتی سي، او که رانغی ګناهګار شو، او فديه ( دم )پرې واجب شوه، نو کله چې حاجيان له عرفې څخه ګرځي، بايد ارامه، د وقار په حالت کې او په خوله يې تلبيه او استغفار وي.

**یادونہ:**

هغه څوک چې عرفات ته د لمر لویدو وروستہ ورسید ، نو ده ته کافي ده چې یوه لنډه دمه واخلي، او روان شي، او د اختر دشپې په لمر راختلو سره پہ عرفات کی د دریدو ته نور وخت نشته.، یعنی په عرفات د وقوف اخري وخت د اختر دشپې د لمر راختل دي.

**۵- په مزدلفه کی شپه کول:**

کله چې حاجیان مزدلفې ته ورسیږي، هلتہ به د ماښام، او ماخستن لمونځونه ، په یوه اذان او دوه اقامتو سره یو ځای پہ یو وخت کې ادا کړی ، او څلور رکعته لمونځ به قصر یعنی دوه رکعتہ ادا کړی ، بیا به مزدلفې ته ورشي او هلته به شپه وکړي، کله چې شپه نیمایي ته ورسیږي، نو ماشومانو، ښځو، سپین ږیرو، او هغه کسان چې د دوی دخدمت لپاره دي، کولی شي چې د منی په لور حرکت وکړي، خو د قوي او تکړه خلکو لپاره احتیاطي خبره داده چې تر سهاره پورې پاتې شي، نو د سهار لمونځ به وختي اداء کړي، بیا به لمرختو ته تر نږدې وخته پورې دعاګانې او زارۍ ګانې کوي، او مخکې له دې چې لمر را وخیژي، د منا په لور به روان شي، او له نیمې شپې وړاندې له مزدلفې څخه وتل نه دي روا، او هغه څوک چې ووت او بیا رانغی حرام کار یې وکړ، او باید فدیه ورکړي، ځکه په مزدلفې کې شپه کول د حج له واجباتو څخه دي، او د شپې کولو کمه موده نیمه شپه تیرول دي، او هغه

کس چې مزدلفې ته د نیمې شپې څخه وروسته یعنې ناوخته راوسیږي، فقط یوه دمه کول ورته کافي دي، که یوازې پری تیر هم شي بس ده.

## ۶ـ دحج هغه کارونه چې د اختر په ورځ کیږي:

کله چې حاجیان له مزدلفې څخه منا ته رواج شی ، نو دوی د مزدلفی او یا د لاری څخہ له ځانه سره اوه دانې شګې را واخلي چې جمره پرې وولي، هره شګه باید د نخود له دانې څخه لږ غټه وي، نو کله چې منا ته را ورسیږي، ورته مستحب ده چې د غټې جمرې په ویشتلو پیل وکړي، اوه واړه شګې به ژر ژر واروي، او له هرې شګې سره به الله اکبر وایي، مهمه داده چې هره شګه باید د جمرې په کډي یا حوض کې ولویږي، که بیا پہ کډی کې پاتې شوه او که بیرته والوته مهمه نده، او د جمرې عقبې د ویشتلو وخت د لسم دشپې له نیمایي ها خوا پیل کیږي، او بیا د لسم د ورځې تر لمر لویدو پورې دوام کوي، او د تکړه او قوي خلکو لپاره ښه ده چې د دغې ورځې له لمر ختو وروسته یې وولي، بیا نو د عقبې جمرې له ویشتلو وروسته په هغو متمتع او قارن[۱] حاجیانو چې هدي ( قربانی )ورسره وي، خپله هدي ذبح کوي، او د ذبحې وخت د اختر د ورځې له لمر ختو څخه پیل بیا د دیارلسمې ورځې تر لمر لویدو پورې ده، یعنې یوه د اختر ورځ او درې نورې هم.

---

(۱) او همدا رنګه د تطوع هدیه.

مستحب ده چې د هدي له غوښې څخه يوڅه وخوړل شي، او تحفه يې کړي او يا يې هم صدقه کړي، له هدي ( قربانی ) وروسته خپل سر خرييي او يا يې هم کموي، او ښځه يې يوازې کموي، چې کمول د ګوتې د يوه بند په اندازه دي، که کوڅۍ وي که خلاص.

کله چې حاجي په دې ورځ جمره عقبه وويشته، او سر يې وخريل، يا يې ويښته لنډ کړل، نو ده ته هر هغه څه چې حرام ول حلال شول، او له احرام څخه خارج شو، غير له ميرمنې، چې له ميرمنې سره کوروالی نشي کولي تر څو چې د افاضې طواف ترسره کړي، او بيا له ذبحې او رميې او سر خريلو وروسته که يې کولی شول نو حاجي دې د اختر په ورځ مکې ته ولاړ شي، د افاضې طواف دې ترسره کړي او سعی دې وکړي، که چيرته متمتع و، يا که قارن او مفرد و، او له طواف قدوم وروسته يې سعی نه وه کړې، نو په دې ورځ کې ورته طواف کول ښه دي، او ددې ورځې د طواف(١) وخت، د لسم له نيمې شپې پيل کيږي او پای يې نه ده معلوم خو ښه خبره داده چې د تشريق له ورځو ونه ځنډول شي.

---

(١) يعنې د افاضې طواف.

**پاملرنه:**

۱) دا ځلور شیان دې په ترتیب وشي، لمړی د جمرو ویشتل، بیا ذبح کول، بیا د سر د ویښتو لنډول یا خریل، بیا د افاضې طواف او سعي ، او که چا مخته وروسته کړل نو پروا نه کوي.(۱)

۲) دا درې شیان چې ترسره شول نو هرڅه چې پرې حرام شوي بیرته ورته حلال شول غیر له میرمنې سره جماع کول چې هغه درې شیان دادي: د جمرو ویشتل، د ویښتو کمول یا خریل، او د افاضې طواف او سعی، که سعی وربانديې پاتې وه.

۳) په هدي کې هغه حیوان قبلیږي، کوم چې په قربانۍ کې قبلیږي، یعنې باید خپل ټاکلي شرعي عمر ته رسېدلې وي، چې هغه د وري لپاره شپږ میاشتې، د اوزګوړي لپاره یو کال، د غوایي لپاره دوه کاله، او د اوښ لپاره پنځه کاله دي، او وری او اوزګوړی له یوه نفر څخه قبلیږي، اما غویی او اوښ بیا له اوو کسانو څخه قبلیږي، یعنې اوه کسان په کې شریکیدلای شي، او په هدي او قربانۍ کې شرط داده چې حیوان به له عیبونو څخه سالم وي، لکه مرض، زوړ والی، ډنګر والی، ړوند والی، او یا يې د بدن کوم غړی پری شوی نه وی -

حاجي باید خپله هدي دغسې پرینږدی ، بلکې لږ دې خپله وخوري او نوره دې په مستحقو کسانو وویشي، او یا دې ټوله هغوی

---

(۱) لکه چې مخکې له رمی طواف وکړي یا سر وخریي.

ته تسليم کړي، او يا دې هم يو تن وکيل ونيسي چې دده پرځای دا کار وکړي.

٤) هغه څوک چې د هدي وس ( توان ) نه لري، لس ورځې به روژه نيسي، درې ورځې به په حج کې نيسي، چې ښه خبره داده چې د عرفې له ورځې څخه يې مخکې ونيسي، خو کولی شي چې د تشريق په ورځو يعنې يولسم، دولسم او دريالسم تاريخ يې ونيسي، اوپاتې نورې اوو روژې به هغه وخت ونيسي کله چې کورته را ستون شو.

## ٧ـ د تشريق په ورځو کې د حج کارونه:

د تشريق ورځې د ذې الحجې يولسمه، دولسمه او دريارلسمه ده، او په دغو ورځو کې به حاجي دوه کاره کوي:

لمړی: د دغو ورځو شپې به په منا کې سبا کوي، يعنې د دغو ورځو د شپو ډيره برخه به په منا کې تيروي، که يې امکان درلود، ځکه دا دحج له واجباتو څخه دي، که له کوم عذر پرته يې هلته شپې ونکړې، ګناکار شو بايد فديه ورکړي.

دويم: په دې ورځو کې به درې جمرې ولي، د هرې ورځې د لمر د زوال څخه وروسته، او د هر وخت لمونځ به په خپل وخت کې له قصر سره اداء کوي، او جمع صلاتين بہ ( دوه لمونځونہ پہ يو وخت ) نه کوي.

## ۸- د جمرو د ويشتلو څرنګوالی:

په يولسمه ورځ کله چې لمر زوال وکړ، نو حاجې به له ځان سره يوويشت شګې واخلي، يا له هغه ځايه چې په کې اوسيږي او ياهم له لارې څخه، چې هره شګه د نخود له دانې څخه لږ غټه وي، لمړی به وړې جمرې ته چې د منا خواته ده، ورشي او په اوو شګو به يې وولي، له هرې شګې سره به الله اکبر ناره کوي، او ځان به ډاډه کوي چې وار شوې شګه د جمرې په حوض کې ولويده، او بيا به منځنۍ جمرې ته راځي، هغه به هم په اوو شګو وولي، بيا به غټې جمرې ته راشي، هغه به هم په اووه شګو وولي، بيا به دا کار سبا د دولسم په ورځ بيا د لمر له زوال څخه وروسته بيا تکرار کړي، او بيا يې خوښه ده که په يې تلوار و، نو مخکې له دې چې لمر ولويږي له منا څخه د ووځی ، او که لمر ولويده او له منی څخه ونه ونشو وتلئ ، نو بيا واجبه ده چې شپه وکړي، او سبا به د لمر له زوال وروسته جمرې بيا وولي، دې کار ته تأخير وايي چې دا له تعجيل څخه ښه ده، او هغه کسان چې مريضان وي، يا هم ښځې چې حاملې وي، ماشومان، او ډير سپين ږيري، کولی شي چې ځانو ته وکيلان ونيسي او هغه د دوی په ځای جمرې وولي.(۱)

---

(۱) وکيل به اول د خپل ځان لپاره بيا د موکل لپاره جمرې له يوه ځای څخه ولي که چيرته بيروبار و.

**فایده:**

د حج ارکان څلور دي، احرام، په عرفات دریدل، طواف او سعی.

د حج واجبات اوه دي، احرام له میقات څخه، په عرفات دریدل تر لمر لویدو پورې، په مزدلفې کې شپه کول، د تشریق په شپو کې په منا کې شپې کول، د جمرو ویشتل، د ویښتو خریل یا کمول او طواف الوداع، نو که چا له دغو ارکانو څخه یو پریښود، حج یې نه صحي کیږي، او که چا له واجباتو څخه کوم واجب پریښود، هغه به ضرور په مکه کی یو څاروی حلال وی ، او دا دې څاوري غوښه به پخپله بیخي نه خوري، او په مسکینانو به یې ویشي. او په دې سره به یی د واجب پاتی کیدل جبران سی او دېته دم وایی -

**۹- طواف وادع ( رخصتی طواف ):**

کله چې حاجې د حج له کارو خلاص شو، او وطن ته یې د تلو قصد وکړ، نو باید له سفره مخکې له بیت الله څخه اوه ځلې طواف له سعیې پرته اداء کړي چې دېته د وداع یا الله پامانی طواف وایي، او که چیرته یې د افاضې طواف ځنډولی و، او هغه یې د تلو په وخت کې وکړ، دا هم منل کیږی او روا ده ، او بل طواف ته اړتیا نشته، خو د حایضې او هغې ښځې چې د نفاس حالت کې وي، له هغوی څخه طواف وادع ساقطیږی، او هغوی د طواف وادع د نه کولو څخه پرته هم تللی شی.

## هغو غلطیانو ته باید حاجیان متوجه شي چې له ځینو څخه یې د حج په وخت کې پیښیږي:

دا غلطیانې ځینې په عقیدې پورې اړه لري، او ځینې یې د حج په عملي احکامو پورې اړه لري:

هغه چې په عقیدې پورې اړه لري، هغه دا چې ځینې حاجیان که په مکه کې وي او که په مدینه کې قبرونو ته ځي، او مړي الله ته وسیله کوی او یا د مړو په روی دعاغواړی ، او یا په په قبرونه باندی تبرک کوی ، او داسې نور... چې دا ټول شرکي او بدعتي کارونه دي، او د نبي صلی الله علیه وسلم د سنتو مخالف عمل ده، ځکه د نبي صلی الله علیه وسلم سنت داده چې قبرونه ددې لپاره زیارت کړئ چې پند او نصیحت تری واخلئ او اخرت در په یاد شي، او مړو ته د مغفرت او رحمت دعا وکړئ، او بس، چې ددې کار لپاره د سفر نیت کول هم صحی ندي، او زیارت یواځې د نرانو لپاره ده نه دښځو، لکه چې رسول الله فرمایي: ( كنت نهيتكم عن زيارة القبور ألا فزوروها فانها تذكر بالآخرة) او دا خطاب یواځې د نارینه و لپاره ده، ځکه نبي صلی الله علیه وسلم په ښځو زیارت کوونکو لعنت ویلی، او هغه صلی الله علیه وسلم به چې کله زیارت کولو نو، خپلو ملګرو ته به یې د رحمت او مغفرت دعا

کوله[۱]، چې دا د رسول صلی الله علیه وسلم تګلاره وه په خپل زیات کولو کې.

او د دې لپاره زیارت ته تګ چی لہ قبرونو تبرک واخلي ، او یا لہ مړو څخہ بښنہ وغواړی ، شفیع او وسیلہ وګرځوی ، دا او دې ورتہ نور کارنو ناروا دي ، او د دحج له مقاصدو سره خلاف کار ده ، بدعت او شرک ده.

او ځینې حاجیان ځانونه ستړي کوي، او خپل وخت او مال مصرفوي تر څو ځینو مزارونو ته ولاړشي، په مکه او مدینه کې، لکه په مکه کې غار ثور او غار حراء ته ځي، چې دا په شرع کې نشته، او په مدینه کې اوو جماتو ته ځي، یا مسجد القبلتین ته ځي، یا نورو ځایو ته ځي او هلته لمونځونه کوي، او تبرک کوي یې، نو په حج کې ددې جماتونو لیدل او لمونځ په کې کول نشته[۲] او دا یو بدعت ده،

او په ځمکه کې درې جماتونه دي چې هغه ته د سفر نیت صحی کیږي، مسجد الحرام، مسجد الرسول صلی الله علیه وسلم، او مسجد الاقصی، او که څوک په مدینه کې و، نو مسجد القبا هم.

---

(۱) که به مسلمان و.

(۲) مګر چې په شرعي ډول زیارت وشي.

او په اسلام کې کوم داسې دلیل نشته چې څوک دې نورو زیارتو ته ولاړ شي، او حاجي چې کله حج ته ځي، نو د ثواب او اجر د لاسته راوړلو لپاره ځي، نو باید هغه کارونه وکړي چې الله تعالی او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم مشروع کړي دي، نو که حاجي خپل وخت دې ته وساتي چې په مسجد الحرام او مسجد الرسول صلی الله علیه وسلم کې لمونځونه وربانديې وکړي، او د الله په لاره کې صدقه ورکړي، ډیر اجر به ترلاسه کړي، او که خپل دا امکانات په خرافاتو او بدعتونو ضایع کړي نو ګناکار او د سزا وړ به وی ، نو حاجي باید دې شیانو ته پام وکړي، او په خرافاتو پسې لاړ نه شي، او حاجي باید هغه کتابونه ولولي، چې د کتاب او سنت مطابق لیکل شوي، تر څو یې عقیده سالمه پاتې شي، او که کومه ستونځه ورته پیدا کېده له عالمانو دې پوښتنه وکړي.

**<u>او هغه خطاګانې چې د حج په کارونو کې پورې اړه لري:</u>**

**لمړی: <u>په احرام کې:</u>**

أ- ځینې حاجیان چې د هوا له لارې راځي، احرام ځنډوي اوبیا چې کله د جدې په میدان کې را کوز شي، بیا هلته احرام تړي، او یابې له هغه هم مکې ته نږدې تړي، چې دوی له په خپله

لاره کې له میقات څخه را تیریږي، او نبي صلی الله علیه وسلم د میقاتو په هکله داسې وایي: (**هن لهن ولمن أتى عليهن من غير أهلهن**) میقات د همغې سیمې دخلکو لپار ده او د هغه چا لپاره ده چې چې په دغه لار راشي، او ددغې سیمې نه وي.

نو کله چې څوک په میقات تیرشي، او یا ورته نږدې شي، که په هوا که په ځمکه، او دا سړی د حج لپاره راغلی وي، نو پر دې سړي واجبه ده چې له همدې میقاته احرام وتړي[۱]، که یې و نه تړل، ګناکار شو، او فدیه ( دم ) پرې واوښته لازمه دې چې ذبح به کوي، او جده خو د ټولو حاجیانو لپاره میقات نده.

ب- ځینې حاجیان چې احرام وتړي بیا دځانو عکسونه وباسي، او د یادښت په ډول یې ساتي، چې ددوی دا کار له دوو وجو حرام ده:

لمړی وجه: عکس اخیستل ستره ګناه ده له ګناهونو څخه.

دویمه وجه: دا کار په ریا کې داخلیږي، ځکه کله چې خلک دده دا تصویر ووینې چې احرام یې تړلی، نو دیته ریا ویل کیږي، نو پام کوه ای مسلمانه وروره.

او ریا شرک اصغر ده، چې د منافقینو له صفاتو څخه یو صفت ده.

---

(۱) او یا یې هم میقات ته له نږدې ځایه وتړي.

ج- ځینې حاجیان داسې ګمان کوي، چې هغه څه یې چې ورسره د احرام په وخت کې راوړي د استعمال اجازه یې لري، لکه څپلکې او پیسې، او که یې کوم شی له ضروریاتو څخه نه وي ورسره را وړي، نو هغه شی به نشي استعمالولی، چې دا خبره غلطه ده، بلکې حاجي حق لري هر څه واخلي او هر څه ته چې ضرورت لري استعمال یې کړي، او یاهم د احرام جامې د احرام په نورو جامو بدلې کړي، او یاهم څپلۍ په نورو هغو بدلې کړي، او غیر له هغو شیانو چې په احرام کې منع دي نور هرڅه کوی شي.

د- ځینې حاجیان چې کله احرام وتړي نو خپله ښۍ وږه را لوڅه کړي، چې دا کار یوائې، د طواف قدوم په وخت کې کیږي، او یا طواف عمرې په وخت کې کیږي، او په نورو حالاتو کې باید وږه پټه وي.(١)

ه- ځینې ښځې ګمان کوي چې دوی باید شین رنګه احرام وکړي، او دا خبره غلطه ده ، ځکه ښځو ته د احرام کوم خاص رنګ نشته، بلکې ښځې به په خپلو عادي جامو کې احرام تړي، خو

(١)خصوصا په لمانځه کې.

د ښایست جامې، او تنګې او نرۍ جامې به نه اغوندي، نه په احرام کې نه بل وخت.

و- ځینې ښځې چې احرام وتړي په خپلو سرو باندې لکه پګړۍ غوندې جګ شیان کیږدي، چې ټیکرى یې په مخ و نه لګیږي، او دا کار غلط ده او اړتیا ورته نشته، او کوم دلیل هم نلري، ځکه د عایشې رضی الله عنها څخه په یو حدیث کې راغلې چې ښځو به خپل مخونه له سریو څخه پټول، او دوى به محرمې وې یعنې احرام به یې تړلی و، او د دې ډول پګړۍ او جګو شیانو کیښودل په کې ندي راغلي، نو ځکه که ټیکرى په مخ ولږیږي پروا یې نشته.

ز- ځینې ښځې چې کله په میقات تیریږي او د احرام وخت راشي، او دوى ته حیض ور پیښ شي، نو دوى احرام نه تړي او ګمان کوي چې د احرام لپاره له حیض څخه پاکي شرط ده، نو له میقات څخه بې له احرامه تیریږي، چې دا واضحه خطا ده، ځکه حیض د احرام مانع نده، او حایضه ټول هغه کارونه کوي کوم چې یې په عادي وخت کې حاجي ښځه یا سړى کوي، خو یوازې طواف به نه کوي او هغه به بیا په اخر کې کوي کله چې پاکه شي.

نو که کومه ښځه له میقات څخه همداسې راتیره شوه او احرام یې ونه تړل، باید بیرته میقات ته ولاړه شي او هلته احرام وتړي او که یې داسې و نه کړل نو ګناکاره شوه او باید فدیه ورکړي، چې ذبح به کوي.

**دویم:** **<u>په طواف کې:</u>**

۱) ځینې حاجیان په طواف کې ځانګړې دعاګانې وایي، او یایې هم له کتابو څخه لولي، او یا یې یو قاري وایي او دوی یې ورسره تکراروي، چې دا کار غلط ده، له دوو وجو:

لمړی: دوی داسې دعا وایي چې دلته یې ویل ندي لازم، ځکه نبي صلی الله علیه وسلم په طواف کې خاصه دعا نه ده ویلې.

دویمه: جماعي دعا بدعت ده، او په دې کې تشویش پیدا کیږي، او ښه خبره داده چې هر سړی ځان ځان ته دعا وکړي او غږ پورته نه کړي.

۲) ځینې حاجیان رکن یمانې ښکل کوي، چې دا غلط کار ده، ځکه رکن یماني باید په لاس مسح شي نه ښکل، او حجر اسود هم مسح کیږي هم ښکل کیږي او هم که بیروبار زیات و، اشاره ورته کیږي، اما رکن یماني ته د بیروبار وخت کې اشاره نشته، او ښکلول یې هم نشته، او همداشان نور ارکان.

۳) ځینې خلک د حجر اسود د ښکل کولو او مسح کولو لپاره ډیر بیروبار جوړوي، چې دا کار ناروا ده، ځکه بیروبار کې سختي ده، او انسان ته خطر ده، او د نرانو او ښځو مینځ کې فتنه ترینه پیدا کیږي، نو که چیرته یې امکان و مسح او ښکل دې شي، او که یې امکان نه و، یوازې دې له لرې ورته اشاره وشي، او عبادتونه باید ټول په اساني او سهولت سره ترسره شي، نه په

سختي او مشکلاتو سره، او بله دا چې د حجر اسود ښکلول او مسح کول په هغه وخت کې مستحب دي چې امکان یې وي، او د بیروبار په وخت کې کله کله د حرامو سبب کیږي، نو څنګه به د سنت کار لپاره د حرام کار مرتکب کیږو.

**دریم: د حج او عمرې لپاره د سر د ځینو ویښتو کمول:**

ځینې حاجیان د سر د ویښتو د کمولو او خریلو په وخت کې د خپل سر یو طرف کموي، یعنې ځینې ویښته کموي او ځینې نه کموي، چې په دې سره د غلطۍ مرتکب کیږي، او په دې سره نسک نه اداء کیږي، ځکه اصلا باید د ټول سر له ویښتانو څخه قصر وشي، نه له ځینو څخه یې، ځکه د ویښتو کمول د خریلو په ځای دي، او په خریلو کې د ټول سر ویښتان خریل کیږي، الله تعالی وایي: ( **مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لاَ تَخَافُونَ**) او هغه څوک چې د سر یو طرف کم کړي، هغه ته داسې نه ویل کیږي چې د ټول سر ویښته یې کم کړي بلکې ویل کیږي د سر ځینې ویښته یې کم کړي.

**څلورم: په عرفات دریدل:**

۱- ځینې حاجیان چې کله عرفات ته ورسیږي نو ارشادي لوحو ته نه ګوري او د عرفات له حدودو څخه بهر ولاړ وي، او دا خلک که په خپل ځای پاتې شول او عرفات ته داخل نه شول حج یې نه

صحيح کيږي، نو حاجيان بايد دې موضوع ته ډيره پاملرنه وکړي تر څو يې حج صحيح شي.

۲ـ ځينې حاجيان داسې عقيده لري چې، کله په عرفات ودريدو، نو بايد جبل الرحمة ته هم ورشي او يا ور وخيژي، نو ځان ډير تکليف وی او سختي وباسي تر څو هغه غره ته وخيژي، او په دې سره له ډيرو خطرونو سره مخامخ کيږي، او دا هرڅه په حج کې نشته، بلکې مقصود داده چې د عرفات هر ځای کې و دريدې نو صحي ده، ځکه نبي صلى الله عليه وسلم وايي: (و عرفة كلها موقف و ارفعوا عن بطن عرنة) او عرفة ټوله د دريدو ځای ده، او پورته شئ له بطن عرنې څخه.

يعنې که مو غر وليده او يا مو ونه ليده پروا يې نشته، او ځينې حاجيان د دعا په وخت کې غره ته مخ اړوي، چې داسې بايد ونه شي، او مخ قبلې طرف ته شي. (۱)

۳ـ ځينې حاجيان له عرفات څخه را ګرځي، او راوځي، مخکې له دې چې لمر ولويږي، او دا کار نده روا، ځکه د وتلو وخت د لمر لويدو څخه وروسته ټاکل شوی، نو که څوک له عرفات څخه مخکې د لمر لويدو را ووتل، بيرته بايد ورشي، ځکه واجب يې ترک کړی ده، او بايد د ذبحې تر څنګ توبه هم وکړي، ځکه نبي صلى الله عليه وسلم به تر هغه وخته دريدو،

---

(۱) څکه غر قبله نه ده

چې لمر به ولویده، او هغه مبارک وايي: (خذوا عني مناسککم) یعنې له ما څخه خپل ټول مناسک زده کړئ.

**پنځم: <u>په مزدلفه کې:</u>**

حاجیان چې کله مزدلفې ته ورسیږي، باید د ماښام او ماخستن لمونځونه يو ځای اداء کړي، او بيا په مزدلفه کې پاتې شي تر څو چې د سهار لمونځ هم وکړي، بیا دې تر هغه وخته چې د لمر ختل نږدې کیږي، دعا به کوي، بیا به د منا په لور حرکت کوي.

او د عذر خاوندانو ته، په ځانګړي ډول ښځو، زړو او ماشومانو ته او هغه چاته چې ددوی خدمت کوي روا ده، چې د نيمې شپې څخه وروسته د مزدلفې څخه ووځي.

خو له ځينو حاجيانو څخه په دې وخت خطاګانې پيښيږي، لکه ځينې يې د مزدلفې حدود نه پيژني، او شپه د باندې کوي، او ځينې بيا د نيمې شپې څخه ترمخ را ووځي، او شپه نه په کې کوي، او هغه چا چې له عذر پرته په مزدلفه کې شپه ونه کړه، نو د حج له واجباتو څخه يې يو واجب پريښود، لازمه ده چې ذبح وکړي، او توبه او استغفار وکړي.

**شپږم: <u>دجمرو په ويشتلو کې:</u>**

د جمرو ويشتل د حج له واجباتو څخه دي، چې حاجي به جمره عقبه د اختر په ورځ، او يا هم دا اختر د شپې له نيمايي څخه وروسته ولي، او درې واړه جمرې به د تشريق په ورځو کې د لمر

له زوال څخه وروسته ولي، لکن په دې نسک کې له ځينو حاجيانو څخه خطاګانې پيښيږي:

١ـ له دوی څخه ځينې يې جمرې په غلط وخت کې ولي، مثلا جمره عقبه د اختر په شپه د نيمې شپې څخه تر مخ ولي، او ياهم درې واړه جمرې د تشريق په ورځو کې له زوال څخه تر مخ ولي، نو دا ويشتل سم نه دي ځکه بې وخته دي.

٢ـ ځينې حاجيان جمرې بې ترتيبه ولي، يا يې له منځنۍ پيل کوي يا يې له وروستۍ پيل کوي، او واجبه خو داسې ده چې لمړي وړه بيا متوسطه او بيا کبری چې وروستۍ ده وولي.

٣ـ او ځينې بيا شګه سمه نه واروي، شګه له لرې ځای څخه واروي، او هغه د جمرې په حوض کې نه لويږي، او يا يې کږه وار کړي بلې خواته ولاړه شي، چې دا رمی يا ويشتل صحيح ندي، ځکه شګه په حوض کې نه لويږي يا ناپوهی، يا د تلوار او ياهم د بې پروايی له امله.

٤ـ ځينې حاجيان د وروستيو ورځو رمی يا ويشتل را مختته کوي، او د تشريق د لمړۍ ورځې له رمی سره يې يوځای خلاصوي، بيا مخکې له دې چې حج يې پای ته ورسيږي خپل وطن ته سفر کوي، چې دا کار له حج سره لوبې کول دي، او د شيطان غرور ، او دوکه ده، ځکه مسلمان دومره پيسې مصرفوي، وخت ضايع کوي، او بيا چې کله د حج اخري شيبې شي له حج سره لوبې کوي، نو د حج واجبات ترک کوي، چې هغه د تشريق په ورځو

کې د جمرو ویشتل او په منا کې شپې تیرول دي، او کله چې دی د وداع طواف وکړي هغه یې هم بې وخته کړي وي، ځکه د وداع طواف د حج له ټولو اعمالو له خلاصیدو وروسته کیږي، نو که دا سړی اصلا حج و نه کړي دا به ورته ښه وي، ځکه مال او وخت یې ضایع کیږي، ځکه الله تعالی وایي: ( **وَأَتِمُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَه)** [1] او د حج او عمرې د اتمام یا پوره والي معنی داده چې ټول کارونه یې په مشروع ډول سره خلاص شي، او قصد ورڅخه یواځې د الله تعالی رضا وي.

۵ـ ځینې حاجیان د الله تعالی د کلام ددې آیت د (تعجل) د کلمې په معنې غلط پوه شوي، ( **فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلاَ اِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّر فَلاَ اِثْمَ عَلَيْهِ)**. [2]

نو داسې ګمان کوي، چې له دوو ورځو څخه هدف د اختر ورځ او یوه بله ورځ ده، چې یولسمه ورځ کیږي، نو دوی په یولسمه ورځ روانیږي او وایي چې مستعجلین یو، او دا ډیره غټه غلطي ده چې سبب یې نا پوهی ده، ځکه له دوو ورځو څخه مطلب د اختر له ورځو وروسته دوه ورځې دي، چې دا یوولسمه او دولسمه ورځ ده، نو که چا د دولسم په ورځ د لمر له زوال څخه وروسته جمرې

---

(۱) سورة البقرة ۱۹۶

(۲) سورة البقرة ۲۰۳

وويشتې او لاړو نو پروا يې نشته، او که څوک ديارلسمې ورځې ته هم پاتې شو نو دا بيخي ښه خبره ده.

**اووم:** <u>**په نبوي مسجد کې:**</u>

په دې کې شک نشته چې د نبي صلی الله عليه وسلم زيارت سنت ده، ځکه هغه صلی الله عليه وسلم وايي: ( **لا تشد الرحال الا ثلاثة مساجد المسجد الحرام ومسجدي هذا و المسجد الأقصى** ) خپلې سفر پنډې مه تړئ مګر دريو جماتو (مسجدو) ته، مسجدالحرام ته، زما جمات ته او مسجد الاقصى ته، او نبي صلی الله عليه وسلم وايي: چې زما په جومات کې لمونځ له نورو جوماتو څخه زر وارې ښه ده، غير له مسجد الحرام څخه. نو دا په دې دلالت کوي چې د نبي صلی الله عليه وسلم زيات مشروع ده، خو ددې ترڅنګ ځينې حاجيان غلطيانې کوي:

١ـ داسې عقيده لري چې نبوي جمات له حج سره ځانګړې علاقه لري، او يا هم د حج له مکملاتو څخه ده، او يا يې له مناسکو څخه ده، چې دا واضحه خطاء ده، ځکه د نبوي مسجد زيارت کوم ځانګړي وخت نه لري، او نه هم له حج سره ارتباط لري، نو که چا حج وکړ، او نبوي جمات يې ونه ليدو حج يې صحيح کيږي.

٢ـ او ځينې بيا داسې عقيده لري، چې د نبي صلی الله عليه وسلم زيارت کول واجب دي، چې داهم غلطه عقيده ده، ځکه که

ځوک دهغه مبارک زیارت ونه کړي کومه ګناه يې نه ده کړې، او که چا وکړ ثواب ګټي.

۳ـ او ځینې حاجیان د نبوي مسجد زیارت د رسول صلی الله علیه وسلم زیارت ګڼي، چې دا په نوم کې غلطي ده، ځکه اصلا د سفر نیت د نبوي جمات د زیارت لپاره کیږي، او چې جمات دې ولیدو او لمونځ دې په کې وکړ، بیا د نبي صلی الله علیه وسلم د قبر زیارت، او یا د نورو اصحابانو رضي الله تعالی عنهم او یاهم شهیدانو زیارتونه ورسره ملګري دي، خو اصلي قصد هغه نه دي، او هغه احادیث چې په هغو کې د نبي صلی الله علیه وسلم د قبر په زیارت امر شوي، هغه ټول یا ضعیف دي، او یاهم موضوعي دي، چې دلیل نشي وربانديې نیول کیدلی، خو که چا د نبوي مسجد زیارت وکړ، نو مستحبه خبره داده چې د نبي صلی الله علیه وسلم دقبر او د اصحابو کرامو او شهیدانو زیاتونه هم وکړي، خو په دې شرط چې زیارت په صحي ډول وشي، او له مړي ځخه مرسته او د حاجت د پوره کیدو غوښتنه ونه شي، او هغوی ته د رحمت او مغفرت دعا وشي.

۴ـ ځینې خلک وایي چې کله د نبوي مسجد زیارت کیږي، نو لازمه ده چې په هغه کې ټاکلي شمیر لمونځونه هم اداء شي، یا ځلویښت او یاهم بل عدد... چې دا غلط ده، ځکه نبي صلی الله علیه وسلم دا نده ټاکلې چې زیارت کوونکی به دده په مسجد کې ځو لمونځونه کوي، او هغه حدیث چې ځلویښت لمونځونه یې

ښودلي دي، په هغه احتجاج نه کيږي، نو هغه شمير لمونځونه دي وشي څومره چې امکان لري.

۵ـ او بله غټه خطا چې هلته واقع کيږي داده چې ځينې کسان چې د نبي صلى الله عليه وسلم زيارت کوي، خپل غړونه په دعا ډير پورته کوي، او ګمان کوي چې دا ښه کار ده، نه بلکې غلط کار ده، ځکه پخوانيو يعنې سلفو د نبي صلى الله عليه وسلم د قبر سره دعا نه کوله، او يواځې سلام به يې پرې کاو.

۶ـ بله خطا داده چې ځينې خلک چې کله نبوي جمات زيارت کړي، بيا نورو ځايونو ته ځي، د زيارت لپاره لکه مسجد الغمامة، مسجد القبلتين، يا مساجد سبعة او نور، دې جماتو ته په دې نيت ورتلل چې له نورو جماتو څخه کومه ځانګړنه لري او يا هم ښه دي غلط کار ده، ځکه نور ټول جوماتونه مساوي دي.

او ددې کار لپاره د پيسو ضايع کول او په هلته تلل ددې په نيت چې په دې جمات کې عبادت کول کومه ځانګړتيا لري مردود عمل ده، ځکه نبي صلى الله عليه وسلم وايي: (من عمل عملاً ليس عليه أمرنا فهو رد) وايي که چا داسې وکړ چې مونږ هغه نه و کړي او دا کار له شرعې سره مخالف و، نو دا کار يې مردود ده، او داسې ځايو ته په داسې نيت تلل د نبي صلى الله عليه وسلم له کارو څخه نه و، نو ځکه رد دي.

الله تعالی دې مونږ ته توفیق راکړي چې دهغه د اوامرو اطاعت او له نواهیو یې اجتناب وکړو... والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی نبینا محمد و آله وصحبه أجمعین...